NATIONAL DEMOCRATIC INSTITUTE FOR INTERNATIONAL AFFAIRS

د لازیاتو معلوماتو لپاره:

اندی ام ـ ا ـ کمبل
مملکتی رییس
+93 (0)79 813 7023
acampbell@ndi.org

# د افغانستان د ټاکنو په هکله نوي معلومات

**4 Sept 2010:** د ۲۰۱۰ کال د ولسی جرګې ټاکنې- ۱۸ د سپتمبر ټاکنو ته ۱۴ ورځې

ملي ديموکراتیک انستیتوت د ۲۰۱۰ کال د ولسي جرګي دټاکنو د پروسې د څارني دنده په غاړه لري. چې اړوندی دندي به د ټاکنو تر مخه، پرمهال او د ټاکنو څخه وروسته تر سره شی. د څارني او اړوندو دندو لپاره د انستيتوت ۱۴۰ نړیوال سیاسي کارپوهان او افغان څارونکي به په ټول هیوداد کښی په څارنه بوخت وي. د لازیاتو معلوماتو لپاره زموږ بریښنا لیک . NDI.org او AfghanistanElectionData.org. ته مراجعه وکړي

## د رأی ورکولو محلونه: په کوم شمیر او چیرته؟

### امنیت او سیاست دا بحثونه چي افغانان په کومو سیمو کي رایی ورکړي، رامنځ ته کړی.




د اګست په ۱۸ نیټه د ټاکنو خپلواک کمیسیون د ۲۰۱۰ کال د ولسي جرګي ټاکنوته د رأی ورکولو د محلونو وروستنی لست خپور کړ چي په نوموړي لست کي ۵۸۹۷ ټاکنیز مرکزونه او ۱۸۷۶۲ محلونه په کې شامل ؤ. د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو د نړیوالو امنیتي ځواکونو په مرسته، په خوندي سیمو کي د نوموړو ټاکنیزو مرکزونو د څرګندولو لپاره، لومړنی د ګواښونو ارزونه د آیساف په مشرۍ ترسره کړه.

د سیپتمبر په لومړي نیټه، د ملي دفاع وزارت د ټاکنو خپلواک کمیسیون د سلا او مشورې پرته ، یو مطبوعاتي کنفرانس ترسره کړ. چي په نوموړي کنفرانس کښ یی د ۹۱ نورو اضافی ټاکنیزو مرکزونو چې په پنځو ولایاتونو کي یې شتون درلود، اعلان وکړ. (د ملي دفاع وزارت لخوا د ټاکنو مرکزونو د زیاتوالي پلان ته ، د ښی خوا ګراف ته مراجعه وکړی) د ټاکنو خپلواک کمیسیون مامورینو په دې اړه خپله ژوره اندیښنه څرګنده کړه او ویې پټیله چې افغان ملی امنیتی ځواکونه به په دې ونه توانیږي تر څو د دغو مرکزونه پوره

## څرنګه به د ټاکنو خپلواک کمیسیون د ۲۰۱۰ کال په ټاکنو کي د درغلیو څخه مخنیوی وکړي؟

### د ټاکنو تر مخه

- رایی پاڼی له هیواد څخه بهرپه داسې توګه چاپ شوي چې په هیواد دننه د جعل امکان یې نشته.
- رایی پاڼي، د هغو بنډلونه دځانګړي مسلسل شمیري لرونکی دي چی د موادو لیږدول تعقیبوی او ځانګړي مهرو لاک او کمپوتری شمیری هم لري.
- د ټاکنو خپلواک کمیسیون د ټاکنیز مرکزونو لست د ټاکنو څخه یو میاشت د مخه نهایی او تصویب شو. او په نظر ده چي د نوموړو مرکزونو شمیره په هغه نا امنو سیمو کي چیرته چی د درغلیو احتمال په کې زیات لیدل کیږي، لږ کړي.
- د ټاکنو خپلواک کمیسیون، ټاکنیز ولایتی مامورین په بیلابیلو ځایونو کښې و ګمارل تر څو یی له ملاتړو ډلو او قدرت خاوندانو سره واټن رامنځ ته شي او خپلواکي یی پراخه شي
- ۶۰۰۰ ټاکنیز مامورین د ۲۰۰۹ کال په ټاکنو کی په تور لست کي راغلل چی ګڼ شمیر یی د درغلیو په بنسټ ؤ.
- لومړني ټاکنیز مامورین د ولسوالیو په کچه ، د یوه ځانګړي بي اړخیزه کمپیوتری پروګرام په ترسره کولو سره وټاکل شول.
- د ولسوالیو د ناظیمونو(همغږی کونکو) مرکي د ملګرو ملتونو او د مدني ټولنې د ګروپونو لخوا و څارل شول.

### د ټاکنو په ترڅ کي

- د ټاکنو په محلونو کي به یواځې ۶۰۰ رای پاڼي موجودې وی
- یو تیلفوني او الیکترونکي مرکز به هغه شمیر ټاکنیز مرکزونه څاري کوم چي د ټاکنو په ورځ پرانستل شوي دی تر څو روښانه کړي چې څومره مرکزونه د ټاکنو په ورځ بند پاتې شوي دي.
- ټاکلی رنګ د هر رایه اچونکي د ګوتی لپاره ، د لوړ کمیاوی توکو لرونکی ده او ۲۵ په سلو کي د انسان د پوستکي لپاره بې ضرره ده.
- رایی هم په عدد او هم په حروفو لیکل کیږی او د پایلو په فورمه کې به ثبت کیږی. او د پایلو فورمې به مهرولاک کیږي ترڅو نورهم د تغیراتو د راوړولو لپاره ګران تمام شي.
- د ټاکنیزو مرکزونو ټولې فورمي به یوه مهرولاک شوي بکس کې وي. ولایتی ټاکنیز مامورین به نوموړي مهرولاک بکسونه ثبت کړي. او دا به د شمیر مرکزونو مامورین په دي و توانوی چي هغه و څاري ترڅو ډادمن ووسی مخکی له دینه چي د ټاکنو خپلواک کمیسیون ملي شمیر مرکز ته ورسیږي.

### د ټاکنو و روسته

- د شمیرنې پروسه په ۷ پړاونو ویشل شوې تر څو یو تینګ کنترول او د کارکونکو د حساب ورکولو زمینه برابره کړي. یو شمیر کمپیوتری پروګرامونه په لاره اچول شوي ترڅو ډاډمنه کړي چي په کمپیوتر کې صحیح معلومات داخل کړی شوی دی او ناسم عدد کشف کړي.
- له ولایتي دفاترو څخه د مشکوکو او نه بشپړ شویو پایلیو استول او یا مهرولاک بکسونه چي فورمونه پکي په صحیح توګه نه دي ډک شوي باید د لازیاتو څیړنو لپاره قرنطین شي او په کمپیوتری سیستم کی به ترهغه پوري نه داخلیږی تر څو د څیړنو پایلې نه یې څرګندې شوي.
- د ټاکنو خپلواک کمیسیون به د ولسوالیو د ناظمینو او عامه پوهاوي مامورینو انځورونه له قراردادونو سره یوځای واخلي ترڅو په اسانه توګه د پولیسو او یا قضایی ادارو لخوا و پیژندل شي. او د خپلو دندو په ناسمه ترسره کولو کې به د بی پروایی په صورت کی په اسانه توګه څیړني ورڅخه تر سره شي.
- د رایو ملی شمیر مرکز به په کابل کې د څارونکو، رسنیو په وړاندي خلاص وی تر څو د پایلو د پروسه او جدول څخه لیدنه وکړي.
- د ټاکنو خپلواک کمیسیون به د ټاکنیزو سرغړونو قضیی د لازیاتو څیړنو لپاره د شکایتونو اوریدلو کمیسیون ته وړاندی کړي او که چیری لازم وی نو د درغلیو پایلی به باطلی اعلان کړي.

## ټاکنیز مرکزونه ( د لومړی پاڼي ادامه )

په ۲۰۰۹ کال کې افغان امنیتی ځواکونه ونتوانیدل چی په کافی شمیر پرسونل تیار کړی ترڅو د ټاکنیز مرکزونو د امنیت په خوندی کولو کی تری نه کټه واخیستل شي. د ټاکنو د خپلواک کمیسیون د مامورینو په وینا، د ټاکنیز مرکزونو اضافه کول غیر لازمی فشار په داسی وخت کې رامنځ ته کوی چی ټاکنیز مامورین دا هلې ځلې کوي تر څو کافی شمیر مامورین تربیه، استخدام او مرکزونو ته یې واستوي. لکه د تیر کال په شان چی د ټاکنیزو مرکزونو د ټاکنو د ورځې څخه د مخه نامعلومه پاتی شوې وه. نو ځکه د ټاکنو خپلواک کمیسیون سږ کال د ټاکنو مرکزونو روستنی لست د ټاکنو څخه یوه میاشت دمخه اعلان کړ تر څو لوژستیکی او امنیتی پلانونه پلی شی.

له هغه مودي را په دې خوا چی د ټاکنو خپلواک کمیسیون د ټاکنیز مرکزونو لست اعلان کړی یو شمیر ولسي نوماندانو د نومونړو ټاکنیزو مرکزنو موقیعیت ناسم بلکه ستونزمن بللي. څو تنو هزاره سیاست پوهانو استدلال کړی چی ټاکنیز مرکزونه په ځینـي امن ځایونو کی شتون نلری چی د هزاره وګړو د وندی څخه په ټاکنوکی مخنیوی کوی ولي د ټاکنو خپلواک کمیسیون رییس فضل احمد معنوی په وینا، یواځنی دلیل چي ټاکنیز مرکزونه به په ځیني امنو سیموکی کی شتون نلری دادی چی تیر کال د نومونړو مرکزنو څخه ډیري کمی رایی ترلاسه شوی وي. په سهیلي او ختیځو سیمو کي نوماندانو او رسنیو وویل،چي د ټاکنیزو مرکزونو نه شتون به د رایه اچونکو د کمی وندي لامل شي. د ټاکنو خپلواک کمیسیون غړو د ټاکنیزو مرکزونو روستنی لست تصویب کړ. د سیپتمبر په څلورمه نیټه ولسمشر حامد کرزی د ټاکنو خپلواک کمیسیون مشران د ولسمشری ماڼی ته را وبلل تر څو د ټاکنیر مرکزونو لست و څیړي. څارونکو داسی وړاندوینه و کړه چی د غونډی مهمه موضوع به د ۹۱ اضافی ټاکنیز مرکزونو شتون البته د ملي دفاع وزارت پلان وی.

## پاملرنه: د ولسي جرګي ټاکنوته کوچی نوماندان

که څه هم افغانستان ۳۴ ولایتونه لري، ولي ۳۵ حوزې د ولسی جرګې ټاکنو ته ټاکل شوی دی. یوه له دي حوزو څخه کوچیانو ته په ټول افغانستان کی ځانګړی شوی ده ځکه چي کوچیان په دودیزه توګه په ټول هیواد کي سفر کوی او خپل موقعیت ته د موسم په بدلیدو سره بدلون ورکوي. د ۲۰۱۰ کال ټاکنوته ۵۲ کوچیان نوماندان دی، چي ۱۰ ښځینه او ۴۲ نارینه دی. نومونړي نوماندان د ولسی جرګي ۱۰ څوکیو ته چی ۳ یی ښخینه وو ته ځانګړی شوی دی سیالی کوی. په ۲۰۰۵ کال کي، ۲۰۰،۰۰۰ تنو څخه زیاتو تنو کوچیانو د خپلو اړوندو ټاکنیز مرکزونو کی رایه ورکړه او کوچیانو د هیواد په په سرتاسریزه ټاکنو کې ونډه واخیستله. اوس مهال په ۳۱ ولایتونو کی د ۹۰۰ څخه زیات د کوچیانو ټاکنیز مرکزونه شتون لري. په تیرو ۳ اونیوکی ، ملي دموکراتیک انسټیټوت له اته ښځینه او ۲۲ نارینه کوچیانو نوماندو سره مرکه وکړه. چي په ځانګړی توګه ښځینه نوماندانو خپلې ناهیلي په ګوته کړه او ویې ویل چي دوی نشي کولاي هغو ولایاتو ته لاسرسی ولری چي نومونړي هلته ګڼ شمیر ملا تړی لری او دوی خپلي ټاکنیزی سیالی د کابل په ولایت کي سرته رسوی چي په کابل کی ټول ۱۶۰ ټاکنیز مرکزونه د کوچیانو لپاره موجود دي. تر ټولو پراخه پاملرنه په هیواد کی، څو تنو کوچی نوماندانو نا امنی په ګوته کړه او ویې ویل چي د نومونړو ټاکنیزې سیالی یی زیانمنی کړی دی. ولی ګڼ شمیرو د قومی مشرانو څخه سر و ټاکوه چی نومونړی د ځانګړو نوماندانو څخه ملاتړ کوی. کوچي نوماندان په خپله توانایی ډاډمن ښکاریدل نومونړو د اړوندو ټاکنیزو سیالیو لپاره یا شخصی پانګه په لاره اچوله او یا یی د قومی مشرانو څخه مرسته ترلاسه کوله.

# د ملي دموکراتیک انسټیټوت د څارنیز ماموریت په آند سیمیه ییز غوره ټکي

## شمالي زون

تر دې وروستیو شمالي سیمی د هیواد تر ټولو باامنه سیمې ګڼل کیدي. اوس مهال ناوړه امنیت د نوماندانو سیالی په ځیني ولسوالیو کی د ستونزو سره مخ کړي. دري اونی مخکی د کندوز ولایت یونوماند د بغلان په ولایت کی د یو بلواګرو د ګروپ لخوا و تښتول شو چي لا اوس هم د نومونړی په اړه هیڅ معلومات نشته. دوه ټاکنیز مامورین د بغلان په ولایت کی وتښتول شول او هریو یی د ۲،۰۰۰ امریکایی ډالرو په مقابل کی خوشی کړای شول او ورسره یی ژمنه کړی وه چی باید د خپلي دندی څخه لاس واخلي. له کوم وخت څخه چی طالبانو خپل حضور په ځینو ولایاتو کی د بیلګی په ډول د کندز او بغلان په ولایتونو کي ځای په ځای کړی نو بلواګر د بلخ په ولایت کی په زیاته پیمانه فعاله شوی. یو نامتو نوماند د بلخ په ولایت کي وویل چي یونوی تشکیل شوی ګروپ چي ځان طالبان بولی ولی په حقیقت کی داړه ماران دي رامنځ ته شوي دي. د بلخ د والي په وینا، د ګلبدین حکمتیارحزب اسلامي په شمالي سیموکی د بلواګرو یو ډیر مهمه ګروپ دی اوخپل فعایتونه یی په داسی شکل شروع کړي چی ټاکني د خپل په نظر سرته رسوي. والی ادعا کوي چي نومونړی ګروپ د سیاسی ګوند ( حزب اسلامی افغانستان ) سره تړون لري. نومونړی وایی چی د حزب اسلامی افغانستان نوماندان د ټاکنیزو سیالیو لپاره په ازاده توګه خپل فعالیتونه تر سره کوی په داسی حال کي چي نور نوماندان ویره لری اونشي کولای چی په نومونړو سیموکي سیالی ترسره کړي. دوه نوماندانو د بلخ په ولایت کي چي یو یی پخوانی جهادی قوماندان او بل یی د ولایتی شورا پخوانی رییس ده د حکمتیار د حزب اسلامی فعالیتونو زیاتوالي ته اشاره وکړه. د ملی دموکراتیک انسټیټوت څارنکوته د یوه یاداشت په بنسټ د افغانستان اسلامی ګوند په تکرارسره انکار کوی چي نومونړی د حکمتیار اسلامی ګوند سره تړاو نلري.

د امنیتي وضعي سره سره، ځینی ستونزی شته چي د ټول ټاکنو اعتبار په ځینو سیمو کي ستونزمن کوي. ځینی نوماندان ادعا کوي چي د ټاکنو د خپلواک کمیسیون د مامورینو د استخدام پروسه کي ځیني نیمګړتیاوی موجودې وې او ځیني ټاکنیز مامورین د ولسوالیو د نوماندانو سره اړیکی لري. د کندز په ولایت کي د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون مامورین پرته له یو تن نه پښتانه دي او ګمان کیږی چی په تاجک او ازبک نوماندانو تنګ نظری کوی او تعصب لري.

## مرکزي زون

د ۶۵۰ نوماندانو سره سره، د کابل د ولایت څخه د یو پر پنځمی برخی څخه زیات شمیر نوماندان چی په افغانستان کي نوماند دی ګډون لري. نومونړي نوماندان ملي پیژندل شوی څیرې، عالمان او ځینی د کوچنیو ټولنو استازي هم پکي شامل دي، ځیني هم داسي کسان پکي دی چي د ناامنیو څخه د اقتصادي او سیاسي فرصتونو په خاطر پلازمینی ته راغلي. د نوماندانو رایی پاڼه به ۱۴ پاڼی وی چی د نوماندانو د ټاکنو لپاره به څه نا څه ګرانه خبره وی.

نوماندانو دا هم بیان کړه چی که څه هم کابل ولایت تر ټولو څخه زیاته سهمیه په ولسي جرګي کي لري ( ۳۳ څوکی) خو بیا هم یواځې څو په ګوتو شمار څوکې د سیالیو لپاره موجودې دي. یو نوماند د افغانستان د تحلیل او تجزیی نهاد ته داسې څرګندونه وکړه، چی په کابل کي شپږ میلونه رایه اچونکي دي په داسی حال کي چي د نوماندانو شمیر ۶۳۶ تنوته رسیږی. چي ۲۰ نوماندان یی نامتو څیري دي او بې له شکه به بریالي شي. چي دپاتي ۱۴ څوکیو څخه ۹ څوکی ښځوته ځانګړي شوي دي، یعنی مطلب دا چي ۶۰۷ نوماندان به پاتي ۵ کورسیوته سیالي ترسره کوي چی دا به ډیره ګرانه وی او زه باور لرم چی زه به یو له دغو پنځو څخه نه یم.

د نوماندانو او کورني څارونکي د راپور په بنسټ امنیتی وضعه به د کابل ولایت په زیاتو سیمو کي نوماندانو ته د سیالی فرصت برابرکړي او د ټولټاکني ورځی څیړنه به هم سرته ورسیږي. ولی د کابل په کلیوالو سیمو کی د څارونکو کم شمیر او د قومي مشرانو نفوذ د ټاکنو اداري چارو په اړه اندیښنې راولاړوي.

ترسره شویو مرکو په کابل کي د ټاکنو اهمیت د راتلونکې دموکراتیک پروسې په اړه په افغانستان کي په ډاګه کړ. د څارونکو په وینا تیر کال په کابل کي ۱۰۰،۰۰۰ رای پاڼې د مشکوکو درغلیو په خاطر باطله شوې وي.

ملي دموکراتیک انسټیټوت یو ناپیلی، غیرحزبی او غیر حکومتی سازمان دی چي په افغانستان کي له ۲۰۰۲ کال څخه راپدې خوا فعالیت کوي . عمده موخه یې د د موکراتیکو نهادونو څخه ملاتړ او دهغو د پیاوړتیا په برخه کي هڅې دي ترڅو دغه باور د خلکو د برخې اخیستنې او په حکومت کې د شفافیت او حسابدهی له لارې غښتلې کړي. د ۲۰۱۰ کال په ټاکنو کې انسټیټوت ۱۷۰۰ نوماندانو ته معلوماتی سیمینارونه په لار واچول. دغه راز سیاسی ګوندونو ته او ۲۴۰ ښځینه کاندیدانو ته یې هم ګټور ورکشاپونه ترسره کړي دی. انسټیټوت یو لړ تخنیکی مرستې یې سره کوم چي په افغانستان کې تر ټولو FEFA له ستر کورنی ټاکنیز څارونکي نهاد دي، هم ترسره کړي. اوس مهال انسټیټوت د کاندیدانو د استازو لپاره روزنیز ورکشاپونه په لاراچولی تر څو د هغوی ظرفیتونه د ټاکنو څخه د ښه څارنې او نظارت لپاره تیار کړي